ليکوالان : مارک شپين فيلډ او شاهان مفتی
منبع : کريسچن ساينس مانيټر ورځپانه ( امريکا )
ژباړن : نثار احمد صمد


## آيا د افغانستان د سولی کِلی کشمير دی؟

### بارک اوباما وايي چې د ده د ولسمشرۍ يو هدف به د کشمير په سر د هند او پاکستان د شخړي حل وی ، او د دې مسألې په هکله اته کلنه چوپتيا پای ته رسوی

نوی ډيلی ؛ او اسلام آباد ، پاکستان – انتخاب سوی ولسمشر بارک اوباما د افغانستان جنګ ته د نوو حل لارو ميندلو د پر مخ بيونی د يو ګام په توګه ، د کشمير په هکله يو نوی ډيپلوماتيک تحرک په نظر کی لری چې په دې سره دئ د مسألې په هکله د امريکا اته کلنه چوپتيا بدلوی .
ښاغلي اوباما استدلال کړی چې پاکستان به د افغانستان سره په ګډه د فعلی ښورښ پر خلاف سم و نه جنګيږی څو چې د هند لخوا يې تاريخی ناامنی رفع سوي نه وی. اوباما تيره مياشت د « ټايمز » د مجلې سره په مرکه کی وويل چې د کشمير په هکله چې د دغو دوو اتومی سيالانو تر منځ د دښمنی اصلی زنه ده، خبری اترى « د راتلونکی اداري د حساسو دندو » څخه کنل کيږی .
دا هغه ستراتيژی ده چې هنديان ځکه په تشويش کی اچوی چې وايی پاکستانی پوځ اوباما غولوی تر څو د دوی د انګيرنو ملاتړ وکړی. خو امنيتی شنونکي وايی چې د افغان ښورښ جرړې د هند او پاکستان تر منځ د قدرت په هلو ځلو کی نغښتی دي او هغه د يوې سيمه ييزه لاس رسۍ څخه پرته نه سی حل کيدای .

د ماساچوسيت په کيمبريج کی د هارورډ پوهنتون د علومو او نړيوالو چارو د بيلفر مرکز څخه زينيا ډارمنډې وايی چې : « دا به ډيره مشکله وی چې افغانستان بېله دې چې د هند او پاکستان ځينی کړکيچونه سپک نه سی ، د اوږدې مودې مثبتی لارې ته برابر کړه سی.»
دغسی مفکورې به د جنرال ډيويډ پترس يعنی هغه چا د دوکتورينو سره بالکل سمون ولرى چې په عراق کی يې د نظم او قانون د راوستلو پالنه پر ذمه اخيستي وه. دئ اوس د دې ټولې سيمی لپاره چې افغانستان هم پکښی شامل دی، د امريکايي ځواکونو لوی قوماندان دی. جنرال پترس د ښورښ ضد يو تکتيک په توګه د يوې سيمه ييزه ډيپلوماسی څرګند او کلک مدافع دی. ده د اکتوبر پر ۱۵ د واشنګټن پوسټ لخوا د يو ګردي ميز په ناسته کی خبرياالانو ته وويل چې د افغانستان د حل لپاره « کيدای سی د هند لخوا هم څه فرصتونه موجود وی.»

هدف بايد دا وی چې د هند او پاکستان تر منځ د باور يوه فضا ايجاد سی ، او پاکستان د هند يعنی هغه هيواد له تاريخی بيرى نور نو بيغمه سی چې دري ځله ورسره جنګيدلی دی. اوباما ويلی چې د دې کار لپاره تر ټولو داېمنه لاره دا ده چې د کشمير يعنی هغه ايالت لپاره يو حل ولټول سی چې د دواړو تر منځ وېشلی دی خو دواړه د هغه پر بشپړ تسلط دعوه لری . ده د اکتوبر پر ۳۱ « ام . اس . ان . بی . سي . » ته وويل چې « موږ بايد هڅه وکړو چې د کشمير بحران حل کړو تر څو هغه [ پاکستان ] خپله اصلی توجه د هند خوا ته نه بلکی د دغو جنګياليو حالاتو ته راواړوی.»

اوباما د ټايمز په مرکه کی دا هم پسی زياته کړه چی ما د پخواني ولسمشر بيل کلنټن سره خبری کړي چی د يو خاص استازي په توګه سيمی ته ورسي. دا ځرګندونه هغه غبرګ عنوان و چی د هند او پاکستان د خبرونو د سر ټکی يي جوړ کړ .

د هند د ملی امنيت د سلاکارانو د ډلی يو غړي راجا موهن وويل چی بل هيڅ شی هم په سيمه کی د امريکا ګټو ته دومره زيانمن نه تماميږی . دئ ادعا کوی چی د هند او پاکستان اړيکی تر بل هر وخت نن سمی سوي دي او د پاکستان او هندی کشمير تر منځ يي د تجارت هغه پرانيستني ته اشاره وکړه چی په دې وروستيو کی منځ ته راغلی چی پخوا يي چا هيڅ تصور هم نه سو کولای .
دئ پسی زياتوی چی هند او پاکستان د هغو صحنو تر شا واقع دي چی د کشمير د مسألي په هکله يي ښه پرمختګ کړی او دواړه هېوادونه دې حالت ته رسيدلی چی د نوموړي بحران د آواری لپاره يوه لاره ولټوی . دا هر څه په اګسټ کی د پخواني پاکستانی ولسمشر پرويز مشرف د رژيم په نړيدو سره حل سول .

## بوش د کشمير د سمولو هدايت ورکړی و

ښاغلی موهن وايی چی دا پرمختګ تر څه حده د بوش د اداري فيصله وه چی ويل يي کشمير ته بايد پام وسی . خو د دغی شخړی داخلول صرف موجوده حساس انډول وراناوه او داسی انګيرل کېده چی امريکا غواړی په دې کار سره د تروريزم پر ضد په جنګ کی د پاکستان د ملاتړ د حصول په خاطر هغه هېواد خوشاله کړی .
موهن وايی په دغسی يو حالت کی هند د ښه امتيازاتو د حصول په غرض د مشکل سره مخامخ کېدی يعنی «ځکه چی پاکستانی پوځ فکر کوی چی امريکايان د دوی پر خوا دي ، نو نه غواړی چی د هند سره اړيکی سمی کړی.»

اوباما او د جنوبی آسيا لپاره د ده سلاکار بروس رايډل دواړه په دې هکله خورا محتاطانه ږغيدلي دي . ښاغلي رايډل په ۲۰۰۷ کی د « بهرنيو چارو » د ژورنال سره په يوه تليفونی مرکه کی وويل چی « زه به پر اداره باندی ټينګار وکړم چی هلته د يو پريکړه ليک لپاره په آرامه خو مؤثره توګه له دې فرصته ګټه واخلی.»
ده په دې مرکه کی کشمير هغه « درد او خوږ وباله چی پاکستان يي په تيرو شلو کالو کی د تروريزم ملاتړ ته اړيستلی دئ.» په حقيقت کی ډېر ماهرين پدې ګروهه دي چی دغی دښمنی او بدی ـ چی کشمير يي تر ټولو غټه نښه ده ـ د افغانستان په شمول د سيمی امن ته لوړئ ورکړی دی .

## سيالي ټوله په افغانستان کی ځرګنده ده

دوه اړخيزه بي باوری هند او پاکستان د کلونو کلونو راهيسی دې ته اړيستلي چی په افغانستان کی د لويی لوبی څخه خپل خپل مطلب واخلی . هند په سيمه کی د افغانستان د اصلی ملګري په توګه کلک پاته سوی دی. خو پاکستان بيا افغانستان خپله ستراتيژيک عقبی محوطه ګڼی چی په هيڅ حالت کی يي هم د هند نفوذ ته نه ورپريږدی .
دا بيری او وهمونه د هماغه ۱۹۷۱ د ترخو خاطرو راهيسی را کوټه سوي چی هغه مهال هندی پوځ د بنګاليانو سره دا مرسته کړي وه چی د پاکستان څخه جدا سی او بنګله ديش جوړ کړی. خو د افغانستان لخوا د تاريخی پلوه د پاکستان پر يوې لويی ټوټې دعوه کولو پاکستان ځکه بېرولی دی چی ممکن د هند تر ننګی لاندی افغانستان پاکستان نور هم پسی وويشی .

فهميده اشرف د اسلام آباد د ستراتيژيک څېړنو د انستيتوت يعنی هغه سروې کونکي جوړښتون څخه چی بودجه يي د پاکستان حکومت ورکوی ، وايی چی « پاکستان په جنوبی آسيا کی يوازينی هغه هېواد دی چی په سيمه کی د هند د بشپړ تسلط په مابين کی ورته ولاړ دی.»
نو د پاکستان پوځ نه غواړی چی يو ځل بيا دغسی ورپيښه سی . د دغسی مخنيوی لپاره يي د خپل نماينده پوځ په توګه د جنګياليو شبکي جوړي کړی دي . په افغانستان کی د پاکستان ملاتړو مجاهدينو شوروی اتحاد يعنی د هند ملګری وشړئ. وروسته د پاکستان ملاتړو طالبانو د هېواد کنټرول واخيست او هغه يي د هند پلوه شمال ائتلاف د جنګسالارانو د تسلط څخه راوګرځاوه .
دغه نماينده جګړه اوس هم دوام لری. هند هلته ۷۵۰ مليونه ډالره پانګه اچولي ده او د ولسمشر حامد کرزي يعنی هغه چا حکومت ته يي د نورو ۴۵۰ مليونو ډالرو ژمنه هم ورکړي چی خورا هند پلوه دئ. هند د افغانستان تر ټولو غټ ملګری دی. دغه هېواد د پاکستان پولی ته څرمه دوو ښارونو يعنی جلال آباد او کندهار کی د يو لمسونکي ګام په توګه خپلی کونسلګری هم خلاصی کړي دي .
پاکستان ادعا کوی چی د هند استخباراتی ځانګی دغه کونسلګری د خپلو اډو په توګه استعمالوی ، خو په عامه يي کوم شواهد نه دي وړاندی کړي. په ښکاره چی څه ادعاګانی کيږی هغه دا دي چی هند د پاکستان په بلوچستان ايالت کی بيلتون غوښتونکو ته مالی کومک ورکوی.

د پاکستانی حکومت امنیتی سلاکار رحمن ملک په واشنګټن کی د خپل یو سفر پر مهال وویل چی « هند غواړی [ د پاکستان قبایلی سیمی ] او بلوچستان بې ثباته کړی.»
شنونکي وایی چی ښایی دا رښتیا وی خو خورا به لږ وی. په واشنګټن کی د منځنی ختیځ د انستیتوت یو شنونکیً ماروین واین باوم وایی چی « ښایی جنګیالیو ته به د هند څخه یو څه مرسته ورکول کیږی ، خو دا په هیڅ وجه دومره غټه نه ده لکه پاکستانیان چی یې څرګندوی.»

یو پاکستانی ديپلومات چی د نوم ښودنی څخه ډډه کوی په شخصی لحاظ د دې خبري سره موافق دی او وایی چی « د پاکستان د لویدیځ محاذ پر اوږدو په ناامنیو کی د هند لاس ښایی دلته د ټولی ستونزی د پنځه سلنی څخه هم زیات نه وی.»
ښاغلی واین باوم وایی چی پاکستان په څرګنده « خپله افغانی او هندی تګلاره د خپل ادراک په هنداره کی ګوری.»

جنګیالیو په جولای کی په کابل کی د هند سفارت په یوه بمی چاودنه سره والوزاوه چی ۴۱ کسان یې ووژل. امریکایی استخباراتی شبکو وویل چی دوی شواهد لری چی پد دې کار کی د پاکستان استخباراتی څانګی ( آی اس آی ) لاس درلود .

د هارورډ پوهنتون څخه مېرمن ډارمندې وایی چی « حتی همدا نن هم پاکستانی پوځ هند یو تهدید ګڼی. نو تر کومه وخته چی دا رویه بدلون مومی ، مشکله ده چی پاکستان دې د خپلی بهرنی تګلاری د اغیزمنتوب په خاطر د تاریخی پلوه د جنګیالیو د دې پیاوړی سرمایي د استعمالولو څخه پر شا سی.»

خو اوس داسی نښی را څرګندی سوي چی په دې رویه کی بدلون را پیل سوی دی. ځکه پاکستان نن د ډېرو هغو جنګیالیو سره جنګیږی چی یو وخت یې د پاکستان د شمال په باجوړ او سوات کی ځای ورکړی و. د اوباما قصد هم دا دی چی دغه بهیر پسی ګړندی کړی او پاکستان ته یو واضح پیغام ورکړی.
ده ټایمز ته وویل چی « ولی باید موږ د [ هند کشمیر ] په جبه زار کی ننوتلي اوسو، خصوصاً په داسی یو مهال کی چی تر ټولو ستر تهدید همدا نن د افغانستان د پولو څخه دئ؟ زما په خیال نوره نو دا شببه رارسېدلي چی موږ باید په بالقوه توګه دوی ورته متوجه کړو.» پای